# خبرپاڼه

## د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام

UNDP

۲۵ غوايی ۱۳۸۵

## په دې ګڼه کې


| | |
|---|---|
| د افغانستان د پانګه اچونې لومړی غونډه په بریالیتوب سره پای ته ورسېده | ۱ |
| ځیرنې د معیوبینو د ستونزو ببخ ته لار پیدا کړه | ۱ |
| د افغانستان د معیوبینو لومړنی مرکز په بشپړېدو دی | ۱ |
| د افغان معیوبینو په هکله قانون | ۲ |
| د افغانانو لپاره د اشارې نوې ژبه د جوړېدو په حال کې ده | ۲ |
| د مخابراتو وزیر په کابل کې د جغرافیایي معلوماتو د سیستم (GIS) مرکز پرانیست | ۲ |
| افغانستان د مطبوعاتو نړیواله ورځ ولمانځله | ۲ |
| د ملګرو ملتونو خپل خوښی کار کوونکی د ښځو د چارو له وزارت سره د خپرونو په ډیزاین کې مرسته کوي | ۳ |
| د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام اداري مسؤول په افغانستان کې له کارکوونکو سره د مسایلو په هکله خبرې وکړې. | ۳ |
| د مقننه قوې د ملاتړ دفتر (SEAL) د افغانستان د ملی شورا د دارالانشاء کارکوونکو ته د مالي چارو په برخه کې روزنې ته لار هواره کړه | ۳ |
| د استرلیا حکومت له راستنېدونکو او کورنیو بېځایه شوو کسانو سره مرسته کوي | ۳ |


### د افغانستان د پانګه اچونې لومړۍ غونډه په بریالیتوب سره پای ته ورسېده




*له ښي خخه کيڼ لوري ته: ښاغلی امين ارسلا، ولسمشر کرزی، د المن سفير رينرډ ستيك*

په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره د پانګه اچونې رابلل شوې غونډه ګډونکوونکو ته په زړه پورې وه او په بریالیتوب سره پای ته ورسېده. ولسمشر حامد کرزي په خپله وینا کې ګډون کوونکي د افغانستان ګټور اقتصادي سیکتور کې له سوداګرۍ تر انرژۍ او بیا له کرنې تر کان رااېستنې پورې نېغ په نېغه پانګه اچونې ته راوبلل.

د غونډې په پای کې د افغانستان د پانګه اچونې د ملاتړ د اداري رئيس عمر زاخیلوال وویل چې د یو شمېر ګڼ ملیتیزو کمپنیو په ګډون، چې د خوارکي توکو د صنعت په برخه کې کار کوي، ډېرو کمپنیو په افغانستان کې د فابریکو او کارخانو د پرانیستلو لپاره خپل غوښتنلیکونه وړاندې کړي دي.

دغې ته ورته لېوالتیا د ډېرو هغو ګډون کوونکو له خوا څرګنده شوه چې د لویې جرګې په خیمه کې یې د سوداګرۍ په نندارتون کې برخه اخیستې وه. د یوې پاکستاني کمپنۍ استازي وویل چې د دوی د کمپنۍ له تولیداتو او خدماتو سره دخلکو سختې مینې حیران کړی او د دغې سترې غوښتنې له امله به دی بیا کابل ته راځي. له بلې خوا ځینو پانګه اچوونکو شکایت کاوه چې دلته کافي باوري معلومات نشته چې له مخې یې د پانګه اچونو لپاره تجارتي پلانونه جوړ شي.

### ځیرنې د معیوبینو د ستونزو ببخ ته لار پیدا کړه

د افغانستان حکومت د نړیوالې ټولنې په ملاتړ او د بشري حقوقو پر بنسټ داسې لاره خپله کړې چې معیوبین او په دودیزه توګه د افغانستان د ټولنې له پامه غورځول شوي پوړونه د خپل هېواد په پراختیایي چارو او حکومت کې شامل کړي. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام او شریکانو یې په بېنګاک کې د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام د سیمه ییز مرکز د هغې غوښتنې په ځواب کې چې په ګڼ شموله حکومت کې د له پامه غورځول شوو ډلو د ګډون لپاره د ترسره شوو اقداماتو په رڼا کې دې وضعیتې ځېړنې ترسره شي، یوه ځېړنه کړې ده. دغه ځېړنه چې د احصایه یې طبعیت پر ځای تر ډېره بریېده تجربوي طبعیت لري، د هغو بېلابېلو ستونزو طبعي میلان، شیوع او علتونه پلټي چې معیوبین په رایه ورکولو او سیاسي ګډون کې ورسره مخاخ کېږي. لومړنی موندنې ښیي چې تر ټولو مهم خنډ د کړو وړو(سلوك) ډول دی.

### د افغانستان د معیوبینو لومړنی مرکز په بشپړېدو دی



*د معیوبینو بایسکل ته لاره جوړیږي*

د افغانستان د معیوبینو لومړني معلوماتي مرکز کې د ټکې ټوکې وروستی کار کېږي. دغه مرکز به په هېواد کې لومړی او یوازنی ودانۍ وي چې د معیوبینو لپاره په بشپړه توګه د لاسرسي وړ وي. دغه مرکز به د معیوبینو لپاره د ړندو د چاپ ماشین (په افغانستان کې هیڅکله مخکې نه ده کارول شوی)، د هغو خلکو لپاره ځانګړي وسایل چې د غږ اورېدو ستونزه لري او انټرنېټ ته د لاسرسي په ګډون وروستني عصري وسایل ولري. د غه مرکز د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام د معیوبیت پر خلاف د مبارزې د ملي پروګرام د پروژې او د ښاري پراختیا د ډلې له خوا د فرانسې د امانتي صندوق د ۱۲۰۰۰۰ امریکایي ډالرو په لګښت جوړ شوی دی.

## د افغان معيوبينو په هکله قانون

د شهيدانو، معيوبينو او ټولنيزو چارو د وزارت په مشرى او د ملګرو ملتونو د پراختيايي پروګرام `د معيوبيت پر خلاف د مبارزې د ملي پروګرام د پروژې` په مرسته يو نوى نوښت په کار اچول شوى، څو معيوبين له خپلو هغو حقوقو څخه بشپړه ګټه پورته کړي چې په اساسي قانون کې ورکړل شوي دي. د دغه نوښت موخه د معيوبيت د قانون جوړونه ده کوم به چې د معيوبيت په هکله د درې کلني ملي تګلارې(چې د کابينې تائيد ته منتظره ده) د اغيزمنې پلي کېدنې، خارنې او نافذېدنې لپاره حقوقي چوکاټ رامنځته کړي. مشورتي غونډې روانې دي چې ټولې مينه والې خواې په کې برخه اخلي تر څو د قانون يوه داسې مسوده جوړه شي چې ټولو ته د منلو وړ وي.



د مسودې په هکله خبرې اترې

## د افغانانو لپاره د اشارې نوې ژبه د جوړېدو په حال کې ده

عبدالغفار او د هغه ميرمن ژمن دي چې په افغانستان کې د ټولو هغو اتکل شوو لس زروکسانو لپاره چې غږ نه اوري د اشارې يوه بشپړه ژبه جوړه کړي. ښاغلي غفار په يوه مرکه کې وويل چې دى په انګستان کې له هغو معيوبينو سره د خلکو له سلکو څخه ډير متاثره شو چې غږ يې نشو اورېدلى او غواړي چې د تبليغ او روزنې له لارې ورته پرمختګ دلته هم ووينې. نوموړي وويل چې د اشارې د يوې داسې ژبې جوړولو ته ژمن دى چې بشپړ ګرامر ولرې تر څو هغه ماشومان چې غږ نشي اورېدلى لږ تر لږه خپلې منځنى زدکړې يې له ستونزې بشپړې کړي. ښاغلى غفار د اشارې پر ژبه له ۱۹۹۸م کال راهيسې کار کوې او د ده د هڅو له برکته اوس شا او خوا ۳۸۰۰ لغاتونه د اشارې پر ژبه ويل کېدلى شي.



له ښې خوا څخه کيڼ لورې ته: رحيمه، عبدالغفار، له UNDP څخه مصطفى اريك، ډاکتر ضيا د NPAD تخنيکى مشاور، مليحه د اشارې د ژبې استاده

## د مخابراتو وزير په کابل کې د جغرافيايي معلوماتو د سيستم (GIS) مرکز پرانيست

د کارې ورتيا د لوړولو په لار کې د يو بل ګام په توګه؛ د مخابراتو وزارت به له دې وروسته وتوانيږي چې د جغرافيايي معلوماتو د سيستم د مرکز په برکت د هېواد هر ډول نخشه طرحه او چاپ کړي.

دا لومړى ځل دى چې افغان کارپوهان د سپوږمکى له لارې تر لاسه شوو معلوماتو پر بنسټ د ښارونو، کليو، لويو لارو او نورو ملي معلوماتو ښودونکي نخشې طرحه او چاپوې. تر دې دمه دغه ډول نخشې د شخصي کمپنيو له خوا چاپېدې، چې ډيرې يې له تېروتنو پاکې نه وې.

د مخابراتو وزير اميرزي سنګين د پرانستنې په مهال خپلو خبرو کې وويل چې: ``دغه پروژه چې موږ نن پرانيستله ډيره مهمه ده او د افغانستان د معلوماتو د دارې (AIMS) د دفتر مننه کوم چې دغه مرکز ته يې کمپيوټرونه، يو د چاپ ماشين او نور وسايل ورکړې او زموږ کارکوونکو ته يې د انګريزي ژبې، کمپيوټر او د جغرافيايي معلوماتو د سيستم په اړه روزنه ورکړې ده.``



د AIMS دفتر ښاغلى صديقه صافى د مخابراتو وزير ښاغلى سنګين ته معلومات ورکوي

## افغانستان د مطبوعاتو نړيواله ورځ ولمانځله

د اطلاعاتو، کلتور او ځوانانو د چارو وزارت سرپرست وزير سيد مخدوم رهين د مطبوعاتو د نړيوالې ورځې د لمانځنې په غونډه کې د خبرو په مهال په افغانستان کې د خبري رسنيو د سيکتور له ودې څخه خوښي څرګنده کړه او زياته يې کړه چې: ``د خداى (ج) ډير شکر کوم چې نن ورځ موږ کولى شو چې دغه ورځ ولمانځو``. څو دى همدارنګه د هغه حقيقت په باره کې اندېښمن ښکاره کېده چې د خبري رسنيو قانون يو له هغو اسنادو څخه دى چې د تيرو پنځو کلونو په اوږدو کې ډيرې خبرې پرې کيږي او لا له وړاندې درې ځله تعديل يا له سره ليکل شوى دى.

دغه پروګرام چې د خبري رسنيو د پراختيا د ناودلتي مؤسسي انترنيوز له خوا تنظيم شوى و او د ملګرو ملتونو د پراختيايي پروګرام، يونيسکو، د متحده ايالتونو د نړيوالې پراختيايي ادارې، د اروپا ټولنې، نى او د خبري رسنيو د نورو نادولتي مؤسسو له خوا يې ملاتړ کېده، د غواييې پر ۱۳مه نېټه ترسره شو. دغه پروګرام کې تر ۲۰۰ ډيرو کسانو برخه اخستې وه چې د افغان حکومت، افغان خبري رسنيو، نړيوالو او مرستندويه مؤسسو او د بېلابېلو نادولتي مؤسسو استازي او ژورنالستان په کې شامل وو.




د مخابراتو وزير غونډې ته د وينا په مهال

## د ملګرو ملتونو خپل خوښي کار کوونکی د ښځو د چارو له وزارت سره د خپرونو په ډیزاین کې مرسته کوي



عبدالرحیم

د ملګرو ملتونو د خپل خوښي کارکوونکي عبدالرحیم د مهارتونو او هڅو له برکته د ښځو د چارو د وزارت د خپرونو په ډیزان کې ښه والی راغلی دی.

ښاغلی عبدالرحیم چې ۲۹ کاله عمر لري د ۲۰۰۵کال د جولای راهیسې د خپل خوښي کارکوونکي په توګه د ښځو د چارو وزارت پر خپرونو لکه پوسټرونو، د مبارکي کارډونو، د یاداشت کتابچو، کلیزو، او مجلو لکه دښځو غږ او میاشتنی مجلې `ښځه` باندې کار کوي.

## د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام اداري مسؤول په افغانستان کې له کارکوونکو سره د مسایلو په هکله خبرې وکړې.

د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام اداري مسؤل وویل چې د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام د افغانستان دفتر باید د بیا رغونې د مؤسسو د ډلې د مشر په توګه دنده تر سره کړي او په افغانستان کې د باثباته پرمختګ لپاره اوږد مهاله پراختیایي او د ظرفیت لوړولو پروګرامونه پلان او عملي کړي. د هغو ویډیویي غونډو د لړۍ لومړۍ غونډه کې چې په نیویارک کې د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام مرکزي دفتر هېوادو په کچه د نړۍ له مهمو دفترونو سره تړي، ښاغلي ډیویس او د هغه د مشاورینو یوې ډلې د افغانستان د دفتر له لوړ پوړي مدیریت او کارکوونکو سره د پروګرام بېلابېل مسایل تر بحث لاندې ونیول.



د نیویارك او كابل تر منځ ژوندۍ خبرې

## د مقننه قوې د ملاتړ دفتر (SEAL) د افغانستان د ملی شورا د دارالانشاء کارکوونکو ته د مالي چارو په برخه کې روزني ته لار هواره کړه

د افغانستان د ملی شورا د دارالانشاء لس کارکوونکو د مالي چارو په هغه روزنه کې برخه واخیسته چې د برتانیې د بهرنیو او همغږو هېوادونو د چارو د دفتر په مالي لګښت او د ویسټ مینسټر ایکسپلینډ ( Westminster Explained) د سازمان په کوربتوب چې د دولتي سیکتور د عامه خدمتونو کارکوونکې او نور روزي، ترسره شوه.

دغه روزنه د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام د مقننه قوې د ملاتړ د دفتر د کاري ورتیا د لوړولو د هڅو یو برخه وه. دغه دفتر د ملی شورا د ولسي جرګې او مشرانو جرګې له کارکوونکو او غړو سره د کاري ظرفیت د لوړولو، تقنیني چارو، ولسي پوهاوي او معلوماتو، اړیکو او د ټکنالوژۍ په بېلابېلو اړخونو کې مرسته کوي.

## د استرلیا حکومت له راستنېدونکو او کورنیو بېځایه شوو کسانوسره مرسته کوي

د استرلیا او افغانستان حکومتونو د ۷،۳ ملیونه امریکایي ډالرو ۱۸ میاشتنی دوه پړاویزه پروژه لاسلیک کړه چې د دغې پروژې له خوا به د پروان ولایت د بګرام ولسوالي د بارکاب په ساحه کې د راستنېدونکو کډوالو او کورنیو بېځایه شوو کورنیو لپاره میشت ځای او د باثباته معیشت لارې چارې برابرې شي. د دواړو حکمتونو له خوا په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام دفتر د دغې پروژې د اداري لپاره ټاکل شوی دی.

د دغو پروژو ترونونه، چې په لومړي پړاو کې به یې د ۴،۶ ملیونه امریکایي ډالرو په لګښت په بارکاب کې د هغو راستنېدونکو کډوالو لپاره کورونه جوړېږي چې ځمکه نلري او په دویم پړاو کې به یې د ۳،۵ ملیونه استرلیایي ډالرو (۲،۷ ملیونه امریکایي ډالرو) په لګښت د دغې ډلې لپاره د معیشت د برابرولو په برخه کې لږول کېږي، د استرلیا د حکومت په استازیتوب د دغه هېواد د کډوالی او د کلتور د چارو د وزیر اماند وانستون او د افغانستان د دولت په استازیتوب د ښار جوړولو د وزیر محمد یوسف پښتون له خوا لاسلیک شو.

د دغو ترونونو له مخې د افغانستان دولت پروژې ته مځکه ورکوي په داسې حال کې چې پانګه به د کورنو جوړولو ته، چې د خټو د رخښتو دویزه ښه خو د زلزلې مقاومت به لري، بېلېږي او د دغو کټه اخیستونکو ډلو له خوا به پخپله جوړېږي.



له کیڼ خخه ښي لوري ته: یونس پایاب د UNDP درئیس مرستیال، روزمیري ګریویس د DIMA منشی مرستیاله او انډریو میتکاف د DIMA د نړیوالې همکارۍ د څانګې منشی


## د لازیاتو معلوماتو لپاره:

ډومنیک میډلي، د خبري رسنیو د اړیکو مسوول
+۹۳ (۰) ۷۰ ۶۹۱ ۹۸۵
dominic.medley@undp.org

عزیز الرحمن ګلبهاري، د اطلاعاتو او نشراتو مسوول
+۹۳ (۰) ۷۹۹ ۳۷۰ ۵۶۷
aziz.gulbahari@undp.org